بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

دوشنبه ۱۱ربيع الاول ۱۴۴۰هـ | ۱۹-۱۱-۲۰۱۸م | گڼه: ح.ت.افغ ۰۲/۱۴۴۰

## مطبوعاتي اعلاميه

# د نړیوال تروریزم رهبر غواړي د افغانستان د خلکو په بمبارولو سوله راولي

فوربس امریکایي مجلې یو نوی راپور خپور کړی، چې ښیي امریکایي او ناټو ځواکونو په افغانستان کې د ۲۰۱۸ له جنورۍ تر سپټمبره شاوخوا ۵ زره او ۲۱۳ هوایي بریدونه کړي. په داسې حال کې چې د دغو بمباریو د ویجاړۍ، وژل شوو او ټپیانو د شمېر جزیات مشخص شوي نه دي؛ خو دا په تېرو ۱۷ کلونو کې د بمبارونو خورا لوړه کچه ده، چې ۲۰۱۸ په افغانستان کې د یوه خورا خونړي کال لقب اخیستی دی.

واقعي شواهد ښيي چې د دغو بریدونو ډېری قربانیان ښځې او ماشومان دي او حتی په ځینو وختونو کې افغان امنیتي ځواکونه هم د دغو بمباریو موخه گرځېدلي دي. خو امریکا دا بمبارونه پر طالبانو د فشار په توگه توجیه کوي، ترڅو امریکایي سولې ته لار هواره کړي. هغه سوله چې د افغانستان د مسلمانو خلکو د وینې په بیه په سیمه کې د امریکا سترې اډې وساتي، خو د جگړې د ختمولو معنی ونه لري. یو شمېر طالب رهبران له ټولو هغو ارزښتونو څخه رابېل کړي، چې د هغو لپاره یې تر ۱۷ کلونو ډېره جگړه کړې او قرباني یې ورکړې دي، چې په پایله کې د هغوی پاتې سرتېري له نورو جنگي ډلو لکه داعش سره یو ځای کړي، ترڅو په سیمه کې د امریکا ستراتیژیکې موخې خوندي شي.

په واقعیت کې په افغانستان کې د امریکا او ناټو نظامي فعالیتونه په اوه سري ښامار بدل شوي، چې تر بل هر تروریزم زیاته وینه تویونه او جنایت زیږوي. کوم عمل د ملکي خلکو، ښځو او ماشومانو تر بمبارولو ډېر تروریستي دی؟ هوایي بمبارونه زیات ځایونه ویجاړوي، ستر ځاني تلفات رامنځته کوي، ماشومان یتیموي، ښځې کونډې کوي، پلرونه او میندې د ویر پر ټغر کینوي، لکه څنګه چې د افغانستان ډېری ولایتونه هره ورځ د هغو تروریستانو د الوتکو د الوتنو شاهد دي، چې د مرګ نغاره غږوي.

## د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر